# کله چې لمر غړېږي – او حجرې ځواب ورکوي

**اسدالله ملکزی**

د لمر فعالیت، زلزله، د جیولوژیکي مقناطیسي ساحو تغیر خوړنه – په اوس وخت کې مونږ زښت ډېر نړیوالو پېښو شاهدان یو، کوم چې نه یواځې دا چې ځمکې ته راجع کیږي، بلکه د انسانانو په ځان ډېره اغیزه لرلی شي .

په 30.07.2025 کې یوې ډېرې زورورې زلزلې چې 8,8 درجې وه، د روسي نیمه ټاپو کامچاتکا (Kamtschatka) ولړزوله . دې سره سم د لمر د کرې یا حلقې څخه پلاسما او مقناطسي ساحه د چاودېدنې په ډول په فضأ کې خپرې شوی .

## د زیاتو پوهانو څېړنیز اسنادونه :

- د سولر فعالیت مقناطیسي ساحې ته بدلون یا تغیر ورکوي .
- زمونږ عصبي سیستم، په مغز کې د خوب له پاره وړوکی اورګان، په حجراتو کې د یو حالت نه بل حالت ته بدلون – دا ټول په دې سره عکس العمل ښکاره کوي .

زمونږ حجرې کوم تړلی سیستم نه لري . دا د داخلي او بیروني فضأ څخه د فریکونسي په ډول اوري .

منبع او پوهنیځې څېړنې ته اشاره :

**NASA Space Weather Center**

**Global Coherence Initiative**

**Max-Planck-Institut für Sonnensystemforschung**


## فضأيي بیولوژیکي محور

څنګه د لمر رڼا زمونږ DNA ته رسیږي؟
لمر د ځمکې په الیکترومقناطیسي ساحې باندې اغیزه کوي- او دا بیا پر زمونږ په حجراتو .
په خاصه توګه : د حجرو په افهام او تفهیم

د میلاتونین په جوړېدنې
په طبعي ډول سره  په مسلسل د زړه ضربان په یو ټاکلي وخت کې تغیر خوړنې
او ددې کلي 8 Hz د هغې فریکونسي پورې تړاو لري .

دا چې د روسیې  په کامچاتکا په نیمه ټاپو کې یوه زوروره زلزله وشوه، او ددې یادونه وړاندې هم وشوه، نو زه غواړم چې ددې زلزلې په برخه کې لنډ معلومات وړاندې کړم :

## د روسیې په کامچاتکاKamtschatka کې د هر وخت په مقایسه دا زلزله ډېره زوروره وه




په کامچاتکا Kamtschatka کې د 1843 کال را په دې خوا فقط پنځه وارې زوروري زلزلې شاهد وو، خو دا وروستۍ زلزله چې 8,8 درجې ښودل شوی، یوه زوروره زلزله وه .

د ختیځ روسي په کامچاتکا ټاپو کې ځمکه د دولسو ورځو راهیسې ږغمیېدله . شلم د جولای (20.07.2025) کې یوې زوروري زلزلې د 7,4 درجې مګنیتوت سره دغه سیمه ولړزوله . دې نه وروسته نورې ډېرې زلزلې وشوې . د لږ څه وخت د پاره ځمکه بیا ارامه شوه . خو بیا د چهار شنبې په ورځ 30.07.2025 په 11:24 د ټاکلي ځای په وخت د 8,8 درجې مګنیتوت سره یوه

زوروره اصلي زلزله وشوه، په ډېر کم وخت کې نورې زلزلې هم وشوې . په دغه سیمه کې د 20.07.2025 څخه وروسته مجموعاً 300 زلزلې د 4,5 درجو سره درج شوي دي .

## په روسیه کې بیا زلزله وشوه. دا زلزله بیا په کامچاتکا Kamtschatka کې د اصلي زلزلې نه وروسته، کوم چې په 30.07.2025 کې شوې وه، ورپسې د زلزلې د سلسلې څخه ده

د کامچاتکا Kamtschatka نیمه ټاپو بیا د 5,7 درجو سره زلزلې ولړزوله . دغه زلزله د اروپا په وخت د سهار په اوه بجو واقع شوله چې مرکز یې د Petropawlowsk-Kamtschatka څخه 342 کیلومتر فاصلې سره په 82,3 کیلومتر ژوروالي سره منځ ته راغلې . دا د اصلي زلزلې نه وروسته د زلزلې د سلسلو څخه ده چې دغه سیمه یې ولړزوله . خپله اصلي زلزله ، کوم چې 30.07.2025 کې د 8,8 درجو قوت سره منځ ته راغلې وه، دا د 1952 کال نه وروسته قویترینه زلزله وه . د دغې زلزلې په وجه تسونامي هم منځ ته راغلې وه، خو د نېکه مرغه کوم ځاني زیان چا ته نه دی رسېدلی، یواځې څو کسان سر سري ټپیان شوي او بس .

## د روسې په ختیځ کې د 450 کالو ارامۍ نه وروسته بیا اورشیندغر Vulkan وغړمبېد .

وروستی وار دا د اورشیند غر Volkan په 1550 کال کې فعاله وو .

دغه اورشیند د هغې زلزلې نه وروسته، کوم چې په 30.07.2025 کې په روسیه کې منځ ته راغلې وه، بیا لکه څنګه چې په انځورونو کې ښکاري، فعاله شو .

په کامچاتکا Kamtschatka کې د ناورین مخنیونې مسؤلینو په وینا د دغې اورشیند ایره تر 6000 m مترو پورې لوړ غورځول شوي دي . دغه د ایرو وریځ د ارام اوقیانوس په لور حرکت کې وو .





## د الوتکو د پاره د خطر درجه لوړه شوې

سره ددې چې تر اوسه په استوګنځایونو سیمو کې د اورشیند ایرو ښکته کېدنې په برخه کې کوم ټاکلی معلومات نه شته، خو بیا هم د الوتکو د پاره د خطر درجه لوړه ښودل شوې ده، نو ځکه په دغه سیمه کې هوایي الوتنې باید محدودې شي .



www.dawatmedia24.com